ليکوال: شريف بهاند د سمبر ۲۰۰۷

# د ارواسيا Eurasien د سيمې پر سر سيالي

## ( دريمه برخه )

زما په اند ، دا مهمه نه ده، چې موږ تر کوم ډول نظام لاندې تيل ساتلي شو.
خو دا ماته تر لمره روښانه ده، چې تيل زموږ له پاره ژوند يز ارزښت لري.
آرتور جيمز بالفور

د فسيلي انرژۍ زېرمو نوې نقشې:

لومړۍ نړيواله جګړه لا روانه وه، چې د وخت سترو ځواکونو، بريتانيا او فرانسې هوډ وکړ، عثمانی امپراتورې ټوټې ټوټې او په خپل منځ کې سره وويشي. په همدې موخه بريتانيا له يوېخوا د منځنی ختيځ لاربندو ته د خپلواکۍ د ژمنې په ورکړې، هڅوې د عثمانی امپراتورۍ په وړاندې پاڅون ته وهڅول او له بلې خوا يې د تزاری روسيې او ايتاليا په پوهاوی له فرانسې سره په ګډه پر يوه پټ پلان، سايکس - پی کوت Sykes- Picot Deklaration هوکړه وکړه. دغه پلان د بريتانيا د هغه وخت د دفاع د وزير د سلا کار، مارک سايکس Mark Sykes او فرانسوی ډيپلومات، جورج پی کوت Georges Picot د طرحې پر بنسټ رامنځته او د ۱۹۱۲ کال د مې په ۱۲ د دواړو هيوادونو د حکومتونو د مشرانو له خوا لاسليک شو. د دغه پلان له مخې؛

- ايتاليا: د مديترانې د سمندرګۍ د اژې Ägäis په ختيځ کې د دوديکانوس Dodekanes په نامه دولس ټاپوګان ترلاسه کړ، چې هغه تر دوهمې نړيوالې جګړې پورې د ايتاليا تر نيواک لاندې و (وګورې: Dodekanes-Wikipedia ). په پام کې و ، چې تزاری روسيې به د ترکيې ارمنی سيمه او د ايريوان سويل لويديځه کردی برخه ترلاسه کړې،
- فرانسې: د عراق په شمالی برخې، سورې، لبنان او د عثمانی امپرتورۍ پر سويل ختيځې برخې، چې په دريمه نقشه کې د A سيمه بلل شوې او
- بريتانيا: د اوسنی اردن، کويت، عراق او د حيفا د شأ و خوا پر سيمو، چې په دريمه نقشه کې د B د سيمې په نامه ياده شوې، واکمنې ترلاسه کړه. بايد يادونه وشي، چې، بريتانيا او فرانسې، تر خپل نيواک لاندې سيمو کې د هيوادونو تر منځ د پولو د ټاکلو په برخه کې ازاد لاس درلود (وګورې: Wikipedia, Sykes-Picot- Abkommen او دريمه نقشه).

د لومړۍ نړيوالې جګړې په پايته رسيدو سره، نه يوازې دا چې عربو خپلواکې ترلاسه نه کړه، بلکې ان فرانسه په سيمه کې له ستونزو سره مخامخ شوه. کارين کنيسل Karin Kneissl

په دې اړه ليکي: په کال ۱۹۲۰ کې د فرانسې او بريتانيا مرکچيانو د ايتاليا د سان ريمو په هوتل کې سره جرگه شول. " په داسې حال کې چې دوي د تيلو د راتلونکې پر سر يو له بل سره ډغرې وهلې، د متحده ايالتونو استازي د هوتل په بڼ کې د ورځپانو په لوستلو لگيا وو. د دغو خبرو اترو مرکزي ټکی له موصل څخه تر حيفا پورې د تيلو د يوه نل ليک تيرول و ... " (Kneissl, Karin, 2006). ځکه د بريتانيا دولت د خپلو څارگرو له خوا، چې په سيمه کې د لروغونپوهانو په جامو کې په کيندنه بوخت وو، کره (دقيق) مالومات ترلاسه کړي وو، چې د فرانسې تر اغيز لاندې

دريمه نقشه: د عثمانی امپراتورۍ ويش د سايکس ـ پی کوت د پلان له مخې



اخځ:

http://de.wikipedia.org/wiki/Sykes-Picot-Abkommen

سیمه، موصل کې د تیلو سترې زیرمې کشف کړې دي. بریتانیا هم د دغه ستراتیژیک توکی (تیل) تر کنترول راوستلو په موخه، خپل له یو میلیون څخه زیات سرتیري منځنی ختیځ ته واستول(وګوري: Engdahl, F. William, 2003, S. 67 )، چې خپله برترې په جګړه کې له اقتصادي پلوه د کمزورې شوې فرانسې تر اغیز لاندې سیمه کې ثابته کړې. له همدې امله د بریتانیا لومړی وزیر، د فرانسې له ولسمشر څخه وغوښتل، چې د عراق شمالی سیمه، موصل بریتانویانو ته وروسپاری او بریتانیا به د هغه په بدل کې:

۱. پر سترې سوریې باندې د فرانسې له ادعا څخه، د نورو ځواکونو په وړاندې دفاع وکړي،

۲. د موصل د سیمې د تیلو نیمایې ترلاسه شوی عاید به فرانسې ته ورکوي،

۳. د المان د راین Rhein او رور Ruhr په سیمه کې به د فرانسې له وړاندې تک څخه ملاتړ وکړي(وګوري: Engdahl, F. William, 2003, S. 72 ).

د سایکس - پی کوت د تړون په ژورې څیړنې سره سړی ته دا چوته کېږي، چې بریتانیا نه یوازې عرب، بلکې ان د تلوالې غړی هیواد، فرانسه هم دوکه او د انګدال Engdahl په وینا، "یو اس دوه ځله خرڅ" او وکولی شول، د سان ریمو د تړون د یوې مادې له مخې د بهرنیو هیوادونو د تیلو شرکتونه د منځنی ختیځ په تیره د عراق د شمالی سیمې له هغو څخه بې برخې کړي (وګوري: Engdahl, F. William, 2003, S. 95). د مدیترانې د سمندرګي له لارې، نړیوال بازارونو ته د سیمې د تیلو د وړاندې کولو له پاره، بریتانویان د نل لیک جوړولو ته اړ و، چې " د دغه نل لیک په اوږدو کې د عراق، اردن او سوریې ترمنځ پولې رامنځته شوې. په دې توګه اروپایې ځواکونو په کال ۱۹۲۰ کې د سیمې ملی دولتونه د بنکیلاک په نوې بڼې سره رامنځته کړل او د دغو دولتونو د خپلواکې په ترلاسه کولو سره، د دوی تر منځه دغه رامنځته شوې پولې په خپلې بڼې سره پاتې شوې (Kneissl, Karin, 2006). سربیره پر دې بریتانیا فلسطین د یوې دښمنې سیمه په نامه تر خپلې ولکې لاندې راوست. که څه هم هغه د سایکس - پی کوت د پلان له مخې، باید یوې نړیوالې اداري، د ساری په توګه د ملتونو ټولنې تر خپل کنترول لاندې نیولې وی. (وګوري د سایکس - پی کوت دریمه ماده او دریمه نقشه). د فرانسویانو او عربې امیرانو له غولونو وروسته، بریتانویانو د بالفور د اعلامیې Balfour - Deklaration په خپرولو سره د فلسطین سیمه یهودانو ته د ملی ټاټوبی په توګه ډالې کړه (وګوري: Balfour - Deklaration ). ځکه بریتانویانو ته له اقتصادي، سیاسي، مالي او

سوداګريز پلوه د داسې يو دولت بنسټ ايښودل څرګند و. هانس کرونبرګر په دې باب ليکي: " په خپل منځوي شخړو کې د ډوبو عربي هيوادونو تر منځ بايد داسې يو دولت رامنځته شي، چې هغه د بريتانيا تر قيموميت لاندې خو اداره يې د يهودانو په لاس کې وي او هغه هم په دې موخه، چې د بريتانويانو اغيز په دغې بې ثباته سيمه کې د تل له پاره سمبال شي" (Kronberger, Hans, 1998, S. 44). له دغو هاند و هڅو سره د بريتانيا دولت و نه شو کړی، خپل ترلاسه شوی دريځ په سيمه کې وساتي. ځکه دغه دولت هم د لومړی جګړې په ترځ کې د متحدو ايالتونو له دولت او د دغه هيواد له خصوصي بانکونو څخه د جګړيزو تجهيزاتو او تيلو د واردولو له امله زيات پوروړی شوی و، چې يوازې د متحدو ايالتونو د خصوصي بانکونو، مورګان Morgan د پور ونډه ۲۵،۱ ميلياردو ډالرو ته رسيده (وګورئ: Engdahl, F. William, 2003, S. 85) او " له کال ۱۹۱۳ څخه تر کال ۱۹۱۵ پورې انګلستان ته د امريکايي صادراتو ونډه ۶۸ ٪ وه" (Engdahl, F. William, 2003, S. 85) او د متحدو ايالتونو دولت د لومړي نړيوالې جګړې په بهير کې د يوه نړيوال اقتصادي ځواک په توګه رامنځته او پر نړيوالو سمندري لارو، پانګې او په تيره بيا د منځنۍ ختيځ د طبيعي او مه توکو لکه د تيلو او ګازو پر زيرمو، د کنترول ادعا وکړه. د لومړي نړيوالې جګړې له پايته رسيدو وروسته بريتانويانو د متحدو ايالتونو د دغې غوښتنې په وړاندې څه نا څه يو لسيزه په ښکاره او پټه توګه مبارزه وکړه. خو بالاخره دغه هيواد د خپلې اقتصادي کمزورتيا له امله بله لار نه درلوده، پرته له دې چې د امريکايانو دغې غوښتنې ته غاړه کېږدي. د همدې لامَل پر بنسټ د دواړو هيوادونو د تيلو د سترو شرکتونو استازي سره جرګه شول، چې د منځنۍ ختيځ د تيلو په اړه خبرې اترې تر سره کړي. د دغو خبرو اترو لاسته راوړنه د هغو د زيرمو د بيا ويش، بيې او د توليد د ونډې پر سر يوه هوکړه وه. د دغې هوکړې پر بنسټ " د تيلو سترو شرکتونو، په اصطلاح اوو خويندو، چې د هغو له ډلې څخه پنځه يې لکه:

- ستاندارد اويل اف نيوجرسی Standart Oil of New Jersey (اوسنی اکسون Exxon)،
- ستاندارد اويل اف نيويارک Standart Oil of New York (اوسنی موبيل Mobil)،
- ستاندارد اويل اف کاليفرنيا Standart Oil of California (اوسنی شورون)،
- ګلف اويل Gulf Oil او
- تګزاکو Texaco امريکايي او دوه نور يې لکه:
- رويال داچ – شل Royal Duch – Shell او
- د انګليس – فارس د تيلو شرکت Anglo - Persian- Oil (اوسنی بريتيش پتروليم BP)، بريتانوي وو، د نړۍ د تيلو د بازارونو کنترول ترلاسه کړ (وګورئ: Spillmann, Kurt, R.,

2006). دغه هوکړه د بریتانیا د حکومت او د متحدو ایالتونو د دولت له خوا تصویب او د سرې کرښې د تړون (Red – Line – Abkommen) رید لاین) په نامه ونومول شوه " ( Kronberger, Hans, 1998, S. 50 ).

دغه سره کرښه " د داردانل Dardanellen له تنگې څخه نیولی د فلسطین، سویز کانال او یمن څخه تیره د فارس د خلیج له لوری د ترکیې، سوریې، لبنان، سعودي عربستان، اردن، عراق او د کویت په شأ و خوا " راتاو وه ( Engdahl, F. William, 2003, S. 120 ) او همدارنگه وگوری څلرمه نقشه).

څلرمه نقشه: د سرې کرښې تر منځه ستراتیژیکې سیمې




اخځ:

http://www.oelberatung.de/HTML/Oel_popUp1.html

د دغې هوکړې له تصویب سره سم د تیلو نومړو کنسرنو (اوو خویندو ) د سرې کرښې د سیمو د تیلو او گازو د زیرمو انحصار ترلاسه او په دې توگه دوی ته، د سیمې د اومه توکو د

تالان (لوټولو او چور) زمينه برابره شوه. د تيلو کنسرنو پرته له دې چې د تيلو د زيرمو لرونکو هيوادونو له واکمنو سره د هغو د توليد د ونډې او بيې په اړه کومه هوکړه وکړي، په ډيره ارزانه بيه او په زياته پيمانه رااېستل او نړيوالو بازارونو ته به يې د خپلو قيمتونو د سياست له مخې، چيرته په ارزانه او چيرته هم په ډيره لوړه بيه وړاندې کول. د دغو کنسرنو دا ډول سياست، له يوېخوا د زيرمو لرونکي هيوادونو واکمن دې ته اړ کړل، چې د خپلو زيرمو د تالان د مخنيوي په خاطر د يوه ګډ دريځ د غوره کولو په لټه کې شي، چې د دوې په غوښتنو کې ترټولو دمخه د زيرمو د اومه توکو له پاره د عادلانه بيې غوښتنه او ان د يوه سازمان رامنځته کول شامل و.

له بلې خوا د تيلو لګښت کونکي هيوادونه په دې لټه کې شول، چې په متحدو ايالتونو او بريتانيا پورې د نه تړلتيا په خاطر يا له نورو هيوادونو سره د خپلو اړتيا وړ تيلو په برخه کې تړون لاسليک کړي، چې ښه بيلګه يې د شوروی اتحاد او المان تر منځه په کال ۱۹۲۲ کې د راپالو Rapallo په نامه تړون دئ (وګورئ: Der Brockhaus, Bd., 11, 1998, S. 298) او يا هم خپل د اړتيا وړ تيل له نورو لارو ترلاسه کړي. له همدې امله د المان چارواکو خپل ځانګيز پوهان دې وهڅول، چې د تخنيکي وسايلو په مرسته د سون داسې مصنوعی توکي تر لاسه کړي، چې د تيلو ځای ونيسي. ځکه د المان د واکمن، ادولف هيتلر په اند: " اوسمهاليز اقتصاد د المان له پاره، چې د سياسي خپلواکۍ غوښتونکی دئ، له تيلو پرته د تصور وړ نه بريښي. نو ځکه د المانی ماشين د سون توکي بايد يو واقعيت وبلل شي، ولو که هغه زياتې سربښندنې ته اړتيا هم ولري. له همدې امله د ډبرو له سکرو څخه د هايدروجنو ترلاسه کول يو اړين عمل بلل کيږي " (Yergin, D., 1991, S.425). د همدې هاند و هڅو په ترځ کې المانی کيميا پوه، فريدريش برګی يوس Friedrich Bergius په کال ۱۹۱۳ په دې بريالی شو، چې د ډبرو سکاره په مايع تبديل او له دغې مايع څخه د سون داسې توکي ترلاسه کړل، چې د تيلو په ځای ور څخه ګټه تر لاسه کيده. د همدې کشف له پاره، برګی يوس ته په کال ۱۹۳۱ کې د کيميا د ځانګې د نوبل جايزه ورکړ شوه.

څنګه چې المان په خپله خاوره کې د طبيعي تيلو له زيرمو بې برخې او په لومړې نړيوالې جګړې هم د هغو د نشتوالی له امله له ماتې سره مخامخ شوی و، نو په دې هڅه کې شو، خپله اړتيا د مصنوعي تيلو په توليد سره څه نا څه اقناع کړي. د همدې اړتيا پر بنسټ و، چې په ۱۹۴۰ کال کې د سون د دا ډول توکو ورځنی توليد لس ميليونو ليترو ته ورسيد او دغه ونډه تر کال ۱۹۴۳ پورې دوه برابره شوه (وګورئ: Kronberger, Hans, 1998, S. 54). لکه څنګه چې مخکې يادونه وشوه، هيتلر د تيلو په اقتصادي او سياسي ارزښت پوه او هغه يې د صنعت د اومه توکو يو ډير مهم عنصر او د خپلو راتلونکو پلانونو د پلی کيدو له پاره يو اړين شرط

باله نو ځکه د دوهمي نړيوالي جګړې په ترځ کې د مصنوعي تيلو د توليد ترځنګ د تيلو د طبيعي زيرمو لاندې کول او د هغوی کنترول د نومړې تر ټولو مهمه ستراتيژي وه. د دغې موخې د ترلاسه کولو له پاره الماني پوځونو په کال ۱۹۴۲کې د ختيځ په لوری خپل ستر يرغل "د آبی رنګه عملياتو " په نامه پيل کړ. د دغه يرغل موخه د قفقاز د سيمې له لارې د ايران او عراق په لوری پرمختګ او د هغوی د تيلو پر پيژندل شوو طبيعي زيرمو کنترول ترلاسه کول و. خو الماني پوځونو په خپلو ټولو سربښندنو او د مدرنو وسلو او تجهيزاتو په لرلو سره، د جګړې په ترځ کې د تيلو د کمښت او نه ورسيدو له امله له ځنډونو سره مخامخ شول. ان ويل کېږي، چې الماني شوبلي به د تيلو د نشتوالي له امله په ورځو ورځو ځای پر ځای ولاړې وې او د دوي لوژيستيکي سمبالښت به د اسونو او اوښانو په مرسته تر سره کيده. نو ځکه د باکو په لوری د دوي پرمختګ له ماتې سره مخامخ شو. هيټلر ويلی و: " که زه د باکو د تيلو د زيرمو په لاندې کولو بريالی نه شم، نو دې ته اړ يم، چې د جګړې بايلل اعلان کړم" ( Spillmann, K., R., 2006).

په شمالی افريقا کې هم الماني پوځونه په ورته برخليک اخته شول. که څه هم دوي د جګړې په پيل کې ستري برياوې ترلاسه کړې، خو د افريقا په شمال، الجزاير او ليبيا کې د متفقينو د ځواکونو په پلې کيدو سره، دوي له لوژيستيکي پلوه په تيره د تيلو له ستونزو سره مخامخ شول. د دوي د ټلوالي غړی هيواد، ايتاليا جنګي بېړيو په دې بريالی نه شوې، الماني پوځونو ته تيل ورورسوي. د المان د پلو ځواکونو قومندان، مارشال اروين رومل Rommel Erwin د تيلو د دغه کمښت ته په نغوتې سره ويلی و: چې، " تر ټولو زړه ور کسان پرته له شوبلو او عالي شوبلي پرته له ډيرو تجهيزاتو بې ګټې دي، شوبلي او مرمي په جګړه کې، چې جبهې يې تل د بدلون په حال کې دي، هيڅ ګټه نه لري، که هغه د نقليه وسايلو او د پوره اندازه تيلو په مرسته په خوځښت رانشي" (Kronberger, Hans, 1998, S.56-57).

د تيلو د دغه ارزښت له امله د المان لارښود، هيټلر په دې هڅه کې شو، چې د خپل پوځ دغه بنسټيزه ستونزه په هيواد کې دننه د مصنوعي تيلو د توليد په مرسته له منځه يوسي. خو د سيالو ځواکونو، په تيره د متحدو ايالتونو د جګړه ييزې ستراتيژې بنسټيزه موخه د جګړې په ترځ کې په دې کې نغښتې وه، چې "د دښمن وسله وال پوځ له تيلو څخه بې برخې کړې". همدا لامَل و، چې " د المان د مصنوعي تيلو پر صنعت په پر له پسې توګه هوايي يرغل دوام ومومند " (Yergin, D., 1991, S.450). د دغه هوايي يرغل په لړ کې د مصنوعي تيلو صنعت تر زياتې اندازې پورې ويجاړ او د المان د پوځ ستونزه لا نوره هم ژوره او په دې توګه د هغه جګړه ييز ماشين له کاره ولويد.

سربیره پردې دوهمې نړیوالې جګړې دا په ډاګه کړه، چې تیل نه یوازې په اروپا کې د هغې ستراتیژیکه موخه او هڅونکی ځواک بلل کیده، بلکې په ختیځ په تیره د ارام سمندر په جبهو کې هم ورته رول درلود. د المان د ټلوالې بل غړی هیواد، چاپان هم د جګړې په پیل کې په ډیرې چټکتیا سره د اسیا په سویلی برخه کې خپل اغیز ته پراختیا ورکړه. لکه چې دانیل یرګین د هغه د بریاوو په باب لیکی: " چاپان د خپل درې میاشتنی تیری په ترڅ کې د اسیا د سویل ختیځ، ټولې بډایې زیرمې په ځانګړې توګه د تیلو زیرمې، چې د هغوی په خاطر یې جګړه پیل کړې وه، تر خپل نیواک لاندې راوستې" (Yergin, D., 1991, S.459).

د چاپان جګړه ییز ماشین پر مخ روان و او پر له پسې بریاوې ترلاسه او د راتلونکو عملیاتو په اړه یې فکر کاوه. د بیلګې په توګه دوې پلان درلود، چې د هند د سمندر له لارې د لویدیځ په لوری پرمختګ او په روسیه یا منځنې ختیځ کې له المانې پوځیانو سره یو ځای، او متفقین د باکو او ایران له تیلو بې برخې کړې. خو چاپانیان په خپل دغه پلان کې بریالې نه شول. ځکه دوې د پوځې بریاوو سره سره، په جګړه کې له ستونزو سره هم لاس او ګریوان وو. د ساری په توګه امریکایانو به له ارام سمندر څخه د شأ تګ په وخت کې، د دغې سیمې د تیلو پیژندل شوې زیرمې ویجاړې کړې. نو چاپانیان به دې اړ شول، خپل د اړتیا وړ توکې، د سترو تیل لیږدونکو بیړیو په مرسته له نورو سیمو څخه سمبال کړې، چې د هغو د لیږدولو (تدارکاتی) لارې به د متحدو ایالتونو د سمندرې ځواکونو په تیره د هغو د مدرنو اوپتالونو له خوا تر پر له پسی یرغل لاندې نیول کیدې. له دغو پوځې عملیاتو څخه د امریکایانو او د هغوی د ټلوالې "بستیزه موخه د خپلو تدارکاتې لارو ساتنه ... او د هغو اډو لاندې کول و، چې له هغو څخه وکړی شي چاپان ته د تیلو بهیر پرې کړی" (Yergin, D., 1991, S.461).

په دې توګه چاپان د سون د توکو له کمښت سره مخامخ شو. خو د هاواې په شمال لویدیځ کې د میدوی Midway د ټاپوګانو پر سر د جګړې پیښنو په ارام سمندر کې د هغې لوری ته بدلون ورکړ. له دغې ماتې وروسته چاپان دفاعی حالت غوره او بنستیزه موخه یې له نیول شوو، په تیره له تیلو لرونکو سیمو لکه ختیځ هند او د سوماترا له استانواک او داسې نورو سیمو څخه دفاع وه. خو په جګړه کې د چاپان تر ټولو ستره کمزورتیا په سمندرې جګړو کې د متحدو ایالتونو د اپتالونو په وړاندې وه. سربیره پر دې امریکایې سمندرې پوځیان په دې بریالې شول، د دوې د سمندرې ځواکونو د جګړې د پلان شفر هم کشف او جګړه ییز عملیات یې له پلی کیدو مخکې شنډ کړې. د چاپان د سمندرې ځواکونو درې وړې کیدل د فلیپین ختیځ ته د لایته Leyte په نامه د ټاپوګانو پر سر جګړه کې لا په بنکاره توګه روښانه شول. چاپانیان په دغې سمندرې جګړه کې د تیلو د کمښت له امله له ماتې سره مخامخ او خپلې ډیرې بیړی هم لاسه ورکړې (وګوری: Yergin, D., 1991, S.459-476).

خو سره د هغه هم چاپان د فليپين د بيا نيولو په هڅه کې و. ځکه د هغه په له لاسه ورکولو سره، نه يوازې په خپله چاپان په نيغه د سيالو ځواکونو د هوايي بمباريو تر ګوابن لاندې راته، بلکې دغه هيواد (فليپين) د چاپان او د هغه د اسيا د سويل ختيځو د لاندې شوو سيمو تر منځه د اړيکو او همدارنګه د بيړۍ چلولو د کرښې په توګه ځانګړى ستراتيژيک ارزښت درلود. خو چاپانيانو د سون د توکو د نشتوالى له امله، خپل دغه عمليات په وار وار وځنډول په دې ترڅ کې دوي وکولى شول، د لايته پر ټاپوګانو د يرغل په موخه خپل سمندري ځواک له بيلا بيلو سيمو په يوه مرکز کې سره راټول کړي. د ټاپوګانو پر سر جګړه پيل شوه، خو چاپاني ځواکونو په ناڅاپي توګه شأ تک وکړ، چې وروسته بيا د هغه لامَل د سمندري ځواکونو يو قومندان "د سون د توکو نشتوالى" (Yergin, D., 1991, S.469) وباله.

له دغې ماتې وروسته چاپانيانو د کاميکازه Kamikaze په نامه له بمب غورځونکو الوتکو ګټه تر لاسه کوله. دغه الوتکې به، سيالو ځواکونو ته د زياتې ورانې د وراړولو او د سون د توکو د سپما په موخه له ځانوژنکو پيلوټانو سره يو ځاى، د دښمن پوځ په تيره د هغوي د جګړه ييزو بيړو پر سر وچول شوې. د چاپانيانو دغه ډول پوځي عمليات هم د سون د توکو د کمښت له امله له تنکسيا (محدوديت) سره مخامخ شو. برعکس د چاپان پر مهمو ښارونو د سيالو ځواکونو بيسارو هوايي بمباريو دوام درلود. د دغې ناوړه او زړه بوږنونکې وضعې سره سره، بيا هم دغه هيواد خپل مقاومت ته دوام او تسليميدل يې ردول. که څه هم امريکايي مشران په دې پوهيدل، چې د چاپان پوځي ځواک د له منځه تلو (زوال) په حال کې دئ، خو د چاپانيانو تر منځه د جنګې روحيې د کمزورتيا کومې نښې نښانې نه تر سترګو کيدې، بلکې داسې بريښيده، چې دوي ټول له وطن څخه د دفاع په خاطر، ځانوژونکو بريدونو ته ځان چمتو کوي. نو امريکايان د خپلو مالي او د پوځيانو د زيان د مخنيوي او د جګړې د پايته رسيدو په موخه، په دې فکر کې شول، چې خپله نوې وسله، اتومي وسله، پر چاپان استعمال کړي. هماغه و، چې امريکايانو لومړى اتومى بمب د ۱۹۴۵ کال د اګست په شپږمه پر هيروشيما Hiroshima او د همدې کال د اګست په نهمه پر ناګازاکي Nagasaki استعمال کړ او دوهمه نړيواله جګړه په ډيرې زړه بوږنونکې بڼې سره پايته ورسيده.

په لنډه توګه سرى ويلى شي، چې پر المان، چاپان، ايتاليا او داسې نورو هيوادونو د متفقينو د برى لامَل، له ځينو استثناوو پرته، ترټولو دمخه په دې کې نغښتى و، چې دوي وکولي شول د جګړې په ترڅ کې خپل پوځي ټولګي، چې د نړۍ په هر برخه کې په جګړه اخته وو، د سون په توکو سمبال کړي. داسې بريښيده، چې تيلو د جګړې په ډګر کې تر وينو زيات ارزښت درلود. د هغو دغه ژونديز ارزښت ته د بريتانيا د بهرنيو چارو پخوانى وزير داسې

نغوته کړې و: "زما په اند ، دا مهمه نه ده، چې موږ تر کوم ډول نظام لاندې تیل ساتلی شو. خو دا ماته تر لمره روښانه ده، چې هغه زموږ له پاره ژوندیز ارزښت لري (Yergin, D., 1991, S.245).
د دوهمې نړیوالې جګړې تر ایرو لاندې سرو سکروټو څخه دوو سترو ځواکونو، چې د بېلا بېلو ایدیالوژیو پلویان وو، سر راپورته کړ. د دوی هر یو د خپلې ایدیالوژۍ پر بنسټ د دې غوښتونکي وو، چې د هغې په رڼا کې خپلې ملی ګټې خوندی، اغیز ته پراختیا او خپله برتری ثابته کړی. نو ځکه د دوهمې نړیوالې جګړې له پایته رسیدو سره جوخت، د دوارو سیستمونو، سوسیالیستی او پانګه وال نظام، د ټلوالو تر منځه د نړۍ پر پاتې برخه، په تیره د تیلو پر زیرمه لرونکو سیمو، پټه او ښکاره سیالې پیل شوه، چې هغې د تیلو پر نوی نړیوال نظم ستر اغیز درلود. دا چې له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته د تیلو نوی نړیوال نظم څه ډول او د هغه په اړه د وخت د سترو ځواکونو ستراتیژي څه ډول وې، په بله برخه کې "د تیلو نوي نړیوالې نقشې" تر عنوان لاندې وڅیړل شي.

پاتې نور بیا